# د اجمل خټک روماني او عشقیه شاعري

# Romantic and Sentimental Poetry of Ajmal Khattak

Nasrullah Khan [1], Tufail Ahmad Zaryab Yousafzai [2]

The poetry of Ajmal Khattak is known for nationalism and the slogan of Rebellion. He was against the class system and violence against humanity. He had a progressive mind and life. He was a Pashtoon politician. Besides this aspect, Ajmal Khattak had a soft and affectionate heart in his body. This sentimental aspect is clear in his poetry and this paper is going to discuss and prove that ajmal Khattak is a romantic and sentimental poet.

**Key words:** Nationalism, progressive, violence, romanticism, sentimental, and Affectionate.

هسې خو په بنیادي توګه اجمل خټک انقلابي، ترقي پسنده او قامي شاعر بللے کېږي ولې بیا هم د هغهٔ په شاعرۍ کښې د حسن او عشق ننداري ښهٔ په زور او شور سره تر سترګو کېږي . اجمل بابا ټول اولس د انقلابي او قامي شاعر په حېث خو پېژني ولې د هغهٔ د عشقیه شاعرۍ سره اولس نهٔ دے اشنا شوے . په بنیادي توګه اجمل بابا د نظم شاعر دے چې نظم ئې په ټول پوره خېژي ولې هغه د نظم نه علاوه رباعي،قطعې او غزلې هم لیکلې دي او چې کومې غزلې ئې لیکلې دي هغه ځان ته څهٔ وائي.

اجمل بابا ګڼ اړخیز شخصیت لرلو. د هغهٔ شخصیت د هغهٔ په فن کښې صفا ځلېږي .د هغهٔ په حقله ډاکټر راج ولي شاه لیکي چې:

" اجمل خټک یو همه ګیر ورسټائل شخصیت لرلو د ستر خوشحال خان خټک د شخصي اوصافو په روایت، په هغه خاوره زیږېدلے یو عالم فاضل یو محقق څېړنکار یو نقاد یو ادیب یو شاعر، یو صحافي یو ادبي مؤرخ، یو جنګیالے ننګیالے، یو

1 Assistant Professor, Department of Pashto, ICP
2 Lecturer, department of Pashto, ICP

سیاسي مبارز، سیاسي او فکري لارښود، یو مدبر په پښتني اوصافو پوره دروند او خوږ مشر یو مشفق استاذ، د انکسار او تواضع یو مثال اجمل خټک دومره شخصي اوصاف لرل چې احاطه ئې په لږ وخت کښې ګران کار دے." 1

نزدې نزدې د هرې ژبې شاعرانو د حسن او عشق شاعري کړې ده او حقه خبره دا ده چې شاعري صرف او صرف د حسن او عشق پېدا وار دے. د شاعرۍ ټوله ادانه په دې دوه څیزونو انحصار لري. که چرته حسن او عشق نۀ وے نو غالب ګمان دے چې شاعري به هم نن نۀ وے ځکه چې دا دواړه څیزونه د شاعرۍ د پاره لازم وملزوم دي . که څوک هر قسمه شاعري کوي ولې د حسن او عشق لاس به په کښې ضرور وي.عشق، محبت او مینه په بېلو بېلو نومونو یاد شوې دي او هر چا ئې تر خپله وسه تعریفونه کړې دي، چې د ټولو مقصد یوشانوالے لري.عشق، محبت او مینه په دوه قسمه وي.غلام علي د محبت په حقله لیکي چې:

"دو لفظوں میں کهیں تو یوں هے که اطاعت و احترام اور دلي اطاعت هي محبت هے. یا یوں سمجهئے که محبت کي دو قسمیں هیں ایک حب نفسیاني اور دوسري حب ایماني جسے حب عقلي بهي کهتے هیں." 2

مطلب دا چې عشق، محبت یا مینه د یو زړۀ د بل زړۀ قدر و احترام کول، اطاعت یعنې فرمانبرداري کول، هره ښۀ بده خبره منل دي.

د ادم نه واخله تر دې دمه ټوله دنیا په حسن او عشق باندې ولاړه ده. حسن او عشق تل د ژوند هنګامه ګرمه ساتي او ساتلې ئې هم ده ځکه خو صوفي شاعر عبدالرحمان بابا د عشق په حقله فرمائي.

دا جهان دے خدائے له عشقه پېدا کړے
د جمله ؤ مخلـــــوقاتو پـــــــلار دے دا 3

ولې د پښتو ژبې او ادب پلار خوشحال خان خټک د دې ټولو هنګامو ذمه وار حسن ګڼي او وائي چې:

زۀ له عشقه خبر نۀ یم چې عشق څۀ وي؟
هونبره اورم چې له حسنـــــه ئې اثر دے 4

دغه رنګ اجمل خټک هم د حسینو سترګو ګزارونو په زړۀ داغلے دے او وائي چې:

یاد چې ستا د سترګو په سؤدا شُومه
بس نۀ یم رسوا که اوس رســـوا شُومه
بس، هره ښادي په ما اوس غم لګي
ستا د درد و غم سره اشنا شُومه
تېـــــروتم د ښکــلو په خندا بانــــدې
ښۀ شـــــوه چې د خلقو د خندا شُومه5

حسن او عشق د انسان فطري جذبه ده او د دې نه بغېر د انسان ژوند پیکه او نا مکمله دے. حسن ؤ عشق داسې قوت او طاقت لري چې ډېر ښۀ ښۀ تکړه او متوَر ځوانان ئې راپرزولي دي.حسن او عشق نه د چا د توري شرنګ ته ګوري او نۀ د چا فقیرۍ او بادشاهۍ ته ګوري ، بلکې خپله رضا کوي. اجمل بابا هم د حسن پلوشو بې خوده کړے دے لکه چې وائي:

څۀ حـال وي زمـا یـاره بې له تـــــا نه مه پښُته
وجـود مې سوے ګوره نور له ما نه مه پښُته
شاید دے ترمې ترمې د اجمل خټک ځېګر
د حســــن زور عبث نورې دنیــــا نه مه پښُته 6

مینه څۀ څیز دے او د څۀ نه پیدا کېږي . څنګه پیدا کېږي؟ دا داسې سوالونه دي چې جوابونه ئې نۀ شي کېدے البته دومره ده چې د مینې په پیدا کېدو کښې ډېر لاس د حسن دے. حسن د ټول کائنات کارساز دے د هابل او قابل واقعه د حسن له وجې وه.د یوسف او زولېخې قیصه د حسن پېداوار وۀ، او مینه هغه څیز ته وئیلے کېږي د کوم څیز په لور چې زړۀ مائل شي او په بار بار ئې د لیدو لېواله شي د زړۀ دغه مائل کېدو ته مینه وائي. مینه په دوه قسمه وي یوه مجازي او بله

حقیقي. حقیقي مینه د مجازي مینې په واسطه حاصلېږي. غرض دا چې مینه د انسان نه واخله تر خالق کائنات پورې د هر څیز سره کېږي او کېدے شي ولې بیا د هر چا خپل معیار دے چې د څۀ څیز سره مینه کوي. اجمل بابا هم سینه کښې د غوښې زړۀ لرلو چې د حسن کرشمو ته د ټنګې نۀ ؤ، څومره صفا وینا کوي چې:

چې زۀ په زړۀ بانـــدې اختیـار نۀ لرم
په مســـــــئلو د مــــــــلا کار نۀ لرم
که "هو" دې نۀ زده خبر دے "نا" ووایه
خو نــــور طاقــت د انتـــظار نۀ لرم 7

که یو پلؤ ته اجمل بابا د انتظار تاؤ نۀ شي زغملے نو بل اړخ ته د هغۀ زړۀ ډېر ناقلاره دے .چې د معشوق له خوا نه ځي زړۀ ورله اجازت نۀ ورکوي، چې ورته نۀ ګوري نو مري او چې ګوري نو د حسن لمبې ئې سوځوي.اجمل بابا دغه نقشه ډېره په هنر مندۍ سره د شعر په رنګینه، خوږه،روانه او عام فهمه ژبه کښې را کښلې ده لکه چې وائي:

له تا نه ځم خو ځم خو تلے چې نۀ شم
تندیه مات شي اودرېدے چې نۀ شم
مرمه که نۀ ګورم، که ګورم سوځم
هم ورته ګورم هم کتے چې نۀ شم
هسې خو یمه د شنو کاڼو خټک
(خو) ستا یو نظر ته اودرېدے چې نۀ شم 8

اجمل خټک یو ښۀ روماني شاعر هم ؤ هغۀ د خپلې روماني او جمالیاتي شاعرۍ پس منظر په خپله دریمه شعري مجموعه" ګلونه تکلونه" مخ دوېم کښې په دې ټکو ښودلے دے.

"د کال نولس سوه اتیائم(۱۹۸۰ء) دسمبر د میاشتې په څوارلسم تاریخ د کابل نه د علاج د پاره چیکو سلواکیه ته لاړم . هلته چې د پراګ کلینک کښې داخل شوم او مازیګر د هغۀ هسپتال په باغیچۀ کښې ګرځېدم او دغلته د دې ښکلي ماحول د ګلالي ښائست او کیف نه ډکه تنهایۍ کښې د

خپل داغلي زړهٔ او زخمي ذهن سره يواځې شُوم، تصوراتو او تخيلاتو په خپله غېږه کښې واخستم. نو چې پوهېدم نو خپل کور کلي، هېواد او ولسونو، د هغوي ژوند ژواک،فکروعمل، ارادو او جدوجهد، ارمانونو او تکلونو، او په دې لړ کښې د هغوي د محروميتونو او قربانو په هجوم کښې د خپل شعر دُنيا ته رسېدلے ووم او د اشعارو راباندې راورېدل شروع شول.د هغې نه پس چې څومره مشرقي يورپ کښې ګرځېدم نو په هر ښار کښې نوو نوو نندارو نوي نوي اشعار راکول."

حنيف خليل د اجمل خټک په حقله ليکي:

" له دې نه پس د اجمل ناقراره ژوند د هغهٔ په شاعرئ هم سماجي کيفيت خور کړو. کله د رومان په لور متوجه او کله د دؤران غم ساندې وئيل.... البته" د ګلونه تکلونه " شاعري ئې زياته د غزل په چوکاټ کښې کړې ده او د غزل د مزاج مطابق ئې د حسن وجمال فطرت نګارئ او رومانويت پسندئ لمن هم ټينګه کړې ده..... څو شعرونه ئې د رومانويت او مقصديت دغه امتزاجي رنګ ښائي:

چې ناڅاپه هغه زلفې خيال ته راشي
د ماحول تورې تيرې په ما رڼا شي
درد په مينه کښې د وصل يو لمحه ده
خو چې ښکلے غوندې ياد په کښې پيدا شي 9

اجمل بابا د زلفو ،سترګو، شونډو، وروځو وغېره نه علاوه رومانى شاعري هم کړې ده. ځکه چې هغه په کومه سيمه کښې ژوند کړے دے هلته څهٔ وو چې نهٔ وو. مطلب د انساني حسن نه واخله تر نباتاتي او حېواني حسن پورې هر څهٔ موجود دي.دلته شنهٔ پټي هم شته. په پټو کښې پېغلې د شړشمو ساڼ هم کوي. دلته دنګ دنګ غرونه هم شته. د غرونو په سر لارې هم شته. د غرونو په لمنو کښې صفا صفا چينې هم شته چې دغه ټولو قدرتي څيزونو د هغه په شخصيت کښې د رومانويت ماده پيدا کړې وه لکه چې د سپرلي منظر بيانوي.

د ساڼ په پولو چې جينوټې تاوېدلې نهٔ وي
د چا بنګړي چې په پټو کښې شنېدلې نهٔ وي

چې بابا ګان ئې په خندا رالـــــــــړزولې نهٔ وي
دا څهٔ سپرلے دے 10

دغه شان هغه په يو نظم کښې د چينې په ژبه خپله قيصه په شعر کښې اولس ته کړې ده چې دا د خټک بابا کمال دے. هم دغه چينه چې خپله قيصه په نظم يا په سندره کښې کوي نو په اخره کښې وائي چې څوک مې څهٔ ګڼي او څوک مې څهٔ خو نن چې خټک بابا خوا له راغے نو راته ئې ووئيل چې ته چينه ئې لکه چې وائي.

ساده ساده عالم راته خوَله وائي د غرونو
هوښيار هوښيارلا وائي چې زهٔ مور يم د سيندونو
چې ترمې تکې سپينې اوبه وينې عاشقان
هغوي وائي چې ژاړي غر په غم کښې د جانان
څوک ما ګڼي نظر کښې پيغله لُور د بارانونو
څوک وائي راته وينه د دې زمکې د رګونو
شاعر مې تخيل کښې په ستائيلو نهٔ مړېږي
عالم مې په تحقيق کښې حقيقت ته حېرانېږي
نن خوا له خټک راغے راته ئې ووې چې چينه ئې
والله چې د قــــــدرت د رنګيـــــنيـــــو آئينـــــه ئې 11

دا ټول نظم د رومانيت نه ډک دے. خټک بابا په خپله شاعرۍ کښې د ژوند سره تړلې په هره موضوع طبع ازمائي کړې ده. کله زمونږ انقلابي ليډر شوے دے کله زمونږ قامي ليډر شوے دے کله کله د مجازي حسن او عشق سره اموخته شوے دے. هاغه ټولې خوبۍ چې په يو مکمل انسان کښې وي ټولې د خټک بابا په شخصيت کښې شاملې وې. که يو پلؤ د تورې شرنګ يادوي او خپله ملا ترې نو بل اړخ ته د ساقيانو او رندانو سره هم ياري دوستي پالي. رندانه شاعري تقريباً د هر شاعر په کلام کښې موجوده وي . پښتو ادب ته دغه روايت د فارسۍ غزل په واسطه راغلے دے، چې هر چا د خپل مزاج سره سم په شعر کښې استعمال کړے دے .اجمل بابا هم په دغه علامتي

مضمون د خپل کلام خوند یو په دوه کړے دے . لکه چې ساقي جان ته د شعر په خوَږه ژبه مخاطب کیږي چې:

ساقي چرته کاسه نیمه شراب لري که نه؟
په خوا کښې چرته ټنګ و یا رباب لري که نه؟
ثواب د زاهدانو، ملایانو شه نصیب
رندانو ته رنګین غوندې عذاب لري که نه؟
راغلے یم دا خپله دنیا ګې لاهو کووم
دې خُم کښې څۀ قطره نیمه شراب لري که نه؟
د خُم بې عزتي ده، وچې شونډې د اجمل
راواړوه ساقي څۀ مئے ناب لري که نه؟ 12

او بیا په مېخانه کښې ساقي او رند ته سوال نه کوي بلکې بر ملا ترې غواړي چې:

اے د مټـــونو او کاســـو خـــاونده!
ستا د ترخـــو اوبـــو بـــلا واخـــلم
په کښې ساه مه اخله بې واره راکـــړه
ښۀ مې خړوب کړه چې لږ سا واخـلم 13

خټک بابا که یو پلؤ ساقي ته حکم کوي چې خړوب مې کړه ولې بل اړخ ته تر دې حده رسېدلے دے چې:

کُوزې به پرېږدي ما پسې به مې خانې ګرځـــوي
که زاهـــــدان شو خـــبردار د مېـــخوارۍ نه زمـــا 14

اجمل بابا د مینې او عشق په لړ کښې هر غم او درد برداشت کولو ته تیار دے د مینې په لار کښې هرې سختې له غاړه ورکوي . د فراق او بېلتون هر غشے ئې په سینه باندې خوړلے دے او د مینې هر پېغور ئې په سر سترګو هم قبول کړے دے لکه چې وائي

په لمبو سوے د زړۀ کور ښــــۀ دے
چې بې لتا شو په کښې اور ښـــۀ دے
بې نمه سترګې پۀ بل لور واړوه
جام چې بې مئيو شي، نسکور ښۀ دے
په نوم ناموس پسې دې ګرځې خلـــق
خټک ته ستا مينه پېغور ښــــۀ دے 15

د محبوب بې رخۍ د خټک بابا زړۀ دړدولے دے دا هم يو حقيقت دے چې په عاشق باندې د ناصحانو ، زاهدانو ، شېخانو او واعظانو خبرې ښې نۀ لګي بابا هم اول محبوب ته او بيا واعظ ته مخاطب کېږي چې:

هلته ائينه کښې خپل بشر وګوره
دلته سينه کښې غوځ ځيګر وګوره
ائينه څۀ پېژني ستا يادونه
راشه زما د زړۀ پرهر وګوره
لکه بادام سورے سورے دے زړۀ مې
راشه نخرې دې د نظر وګوره
واعظه خبر دے بيا مې ګرم وګڼه
اول راځه زما دلبر وګوره
تل به ئې وې چې زړۀ د کاني لرم
هغۀ اجمل دې په خپل در وګوره 16

اجمل بابا خپل جذبات ډېر په زړۀ راښکونکې ژبه کښې پېش کړي دي.هر شاعر د خپل دردېدلي زړۀ براس له ښائسته ښائسته ټکي ګوري ځکه چې:

" شاعر په رښتيا سره عاشق وي او هم دغه وجه ده چې دے د خپل سوي
زړۀ او ژوبل احساس فرياد د نړۍ غړو ته اورول غواړي، او د غم او درد نه

داسې وېنا کوي چې په نورو زړونو اروړو اثر پرېباسي. د دهٔ مينه کښې دومره اخلاص وي چې کله هم چا دړمند د دهٔ سندرو ته فکر کړے وي، نو هغهٔ له ئې داسې خوند او مزه ورکړې وي، چې هغهٔ بيا د شاعر وېنا د خپل خُوږ زړګي د پاره ټکور ګڼي او د ژوند خوږوالے ورته بيا په دې کښې ليدے شي، چې مينه يا عشق د انسان بنيادي ضرورت دے او هر کار او هر مقصد لره مينه يا عشق داسې ضروري امر دے لکه چې د انسان بدن له وينه يا روح لازي څيز دے." 17

اجمل بابا هم داسې په زړهٔ پورې شعرونه رقم کړي دي چې د هرې پېښې وګړي په کښې خپل ځانونه وېني د هغهٔ په شاعرئ کښې د هر چا د زړهٔ اواز او ساز پروت دے.دا يو کوټلے حقيقت دے چې په بدن کښې سترګې ډېر د کار څيز دے دا ټولې هنګامې د سترګو له وجې ګرمې دي . اجمل هم د خمارو سترګو د غشو نه فرياد کړے دے او خپل مثال ئې د نے يعنې (شپېلئ) سره ورکړے دے لکه چې وائي:

خمارو سترګو کړم برباد برباد
لکه نے کړم ځکه فرياد فرياد
د چا د يو نرئ خندا صدقه
زما تمام عمر ناښاد ناښاد
اوس د زړګي د بلبل خبر نشته
د اشنا هر نظر صياد صياد 18

د اجمل په شاعرئ کښې يو قسم مصوري پرته ده چې هر شعر ئې د اورېدونکي يا لوستونکي مخې ته مجسم تصوير او نظاره جوړوي.لکه چې د خپل زخمي زړهٔ په حقله طبيب دم کړي ، طواف کوونکي او شېخ بابا ته داسې مخاطب کېږي طبيب ته وائي.

زما د زخم علاجونه په مرهم مه کوه
طبيبه مالګې دوړوه تهٔ ئې نور غم مه کوه 19

او بيا دم ګړي ته هم حقيقت په ډا ګه کوي چې:

د حسرت مړي تش د خلې په بادو نۀ رغېږي
عبث دم ګړه تکليفونه دې د دم مه کـــــــوه 20

بيا زاهد ، واعظ او طواف کوونکي ته ګويا کېږي چې:

دنيا ته شا کړه دغه خپل زړګے دې ولټوه
بس طوافونه نور د دېر او د حرم مه کوه 21

او بيا شېخ بابا ته مخاطب کېږي ورته وائي:

چې خمارې سترګې ښکاره شي نو کاسې تشوه
اخر شراب دي شېخه داسې ترې قسم مه کـــــوه 22

غرض دا چې اجمل بابا که يو طرفته د پښتو جديدې شاعرۍ يو انقلابي ترقي پسنده او قامي شاعر دے نو بل اړخ ته هغه يو روماني شاعر هم دے چې شاعري ئې د عشقيه شعرونو نه ډکه ده او کلام ئې پرې ښۀ سمبال دے. عشق ئې حقيقي نه بلکې مجازي دے. د مجازي عشق ټول لوازمات ئې په کلام کښې شتون لري. د محبوب بې رخي د زاهدانو ، ناصحانو، واعظانو نصيحتونه، د مليانو سره مبارزه ، د طبيبانو سره مرکه، د ساقيانو او رندانو سره ياري، د غرونو، چينو او سيندونو سره اشنائي وغېره دا ټول موضوعات د هغۀ په شاعرۍ کښې ښۀ ډېر تر سترګو کېږي.

## ماخذونه


۱: ډاکټر راجولي شاه خټک،د فکر ملغلرې،منګل کتاب کور، محله جنګي،پېښور، ستمبر۲۰۱۷ء،مخ۶۳
۲: غلام علي، طريقت کي حقيقت، البدر پبلي کشنز، اردو بازار، لاهور، حصه اول، اکتوبر ۱۱۹۸ء، ص۱۰۱.
۳: سيد رسول رسا،د عبدالرحمان بابا ديوان، يونيورسټي بک ايجنسي، خيبر بازار، پېښورو س ن،مخ ۱۵.
۴: حبيب الله رفيع، د خوشحال ديوان، سحر مطبه، د امان کتاب لۀ خپرونو څخه، کال ۲۰۱۸ء،مخ ۱۰۲۱.
۵: اجمل خټک، د غېرت چغه، يونبورسټي بک ايجنسي، خيبر بازار، پېښور، ۶ اپريل۱۹۵۷ء، مخ ۱۷.
۶: هم دغه اثر،مخ ۱۸

۷: هم دغه اثر،مخ ۱۹
۸: هم دغه اثر،مخ ۱۲۰.
۹: حنیف خلیل، ائینې،دانش کتاب خپروندویه ټولنه، پېښور، اپرېل ۲۰۰۱ء، مخ ۲۵۰
۱۰: اجمل ختټک، د غېرت چغه ،مخ ۲۷
۱۱: هم دغه مخ۱۴۱،۱۴۰
۱۲: هم دغه اثر،مخ۱۰۴
۱۳: هم دغه اثر،مخ ۱۳۵
۱۴: هم دغه اثر،مخ ۱۵
۱۵: هم دغه اثر،مخ ۹۰
۱۶: هم دغه اثر،مخ ۹۱
۱۷: پروفېسر فهم دل راهي، عارف رحمان،جدون پرېس پېښور، کال ۱۹۸۶ء،مخ ۸۹،۹۰
۱۸: هم دغه اثر،مخ ۸۹
۱۹: هم دغه اثر،مخ ۷۸.
۲۰: هم دغه اثر،مخ ۷۸
۲۱: هم دغه اثر،مخ ۷۸
۲۲: هم دغه اثر،مخ ۷۸